هفته نامه معارف اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۲۹٦) ماه رمضان المبارک ۱٤٤٦ هـ ق. مطابق ماه حوت ۱٤۰۳ هـ ش.

تعلیم و تربیه یگانه راه اصلاح و پیشرفت کشور است

## درنو هېوادوالو!

# خپل ماشومان په مدرسو او ښوونځیو کې شامل کړئ ځکه چې یو لوستی اولاد د خپلې کورنۍ لپاره صدقه جاریه او د ټولنې لپاره څراغ وي، چې عام خلک ترې هم ګټه اخیستلی شي

( یَرفَعِ اللَّهُ الَّذینَ آمَنوا مِنکُم وَالَّذینَ أوتُوا العِلمَ دَرَجاتٍ وَاللَّهُ بِما تَعمَلونَ خَبیرٌ)
( سوره مجادله آیه ۱۱ )

ژباړه: پورته به کړي الله هغه کسان چې ایمان لري په تاسې او هغه چې علم ورکړل شوی دی درجې او الله جل جلاله خبر دی په هغه چې تاسې یې کوئ.

په نوي ښوونیز کال کې د یوې لویې موخې په لور ګام پورته کوو تر څو د ځان او راتلونکو نسلونو لپاره یو پرمختللی هېواد په میراث پرېږدو. د علم او پوهې په ترلاسه کولو سره د انسان په وجود کې زیات فضیلتونه وده او عروج کوي لکه: ښه سلوک، له یو بل سره مرسته، عدالت، مرحمت، امانت پالنه، صداقت، صبر، وفا، حیا، قوت، تواضع، سخا او شجاعت چې په پایله کې د نېکمرغه ټولنې د جوړښت لامل ګرځي.

کله چې یاد اوچت خویونه د علم او پوهې د زده کړې په ځانګړې توګه د اسلامي زده کړې له برکته د انسان په وجود کې ځای ونیسي نو ظلم، جنایت، خرافات، او نور ناوړه کارونه په ټولنه کې نه پاتې کېږي، د باور فضا رامنځته کېږي، ټول خلک به په سوله او وروروکلوي کې ژوند کوي او بالآخره به د ټولنې د ودې او پرمختګ زمینه برابره شي.

د انسان له مړینې څخه وروسته د هغه د عمل ثواب قطع کېږي مګر دری شیان لکه څرنګه چې پیغمبر(صلی الله علیه و سلم) فرمایلي: (اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثة الا من صدقة جاریة او علم ینتفع به او ولد صالح یدعو له) - مشکاة المصابیح صفحه ۳۲

ژباړه: کله چې انسان مړ شي د درې څیزونو پرته د عمل ثواب یې قطع کېږي.

جاریه صدقه.

هغه علم چې ګټه ترې واخیستل شي.

صالح اولاد چې دعا ورته کوي.

## د سر کال په بهیر کې ننګرهار د پوهنې په ډګر کې ښې لاسته راوړنې درلودې

د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست چارواکي وايي چې سږ کال د لومړیو شپږو میاشتو په بهیر کې یې په دې ولایت کې د پوهنې په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې او راتلونکي کال کې به لا ډېره هڅه وکړي تر څو پوهنیز نظام په دې ولایت کې پیاوړی او د هېواد بچیانو ته د لا زیاتو زده کړو زمینه برابره کړي.

د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو د معلوماتو په اساس په دغه ولایت کې د سږ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د سړو او ګرمو سیمو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې ۸۲ زره او ۹۲۸ تنو په شاوخوا کې زده کوونکي او زده کوونکې ښوونځیو ته جذب شوي دي، د عمومي زده کړو آمریت له لوري ۵۰ ټولګي چټکو زده کړو ته ایجاد شوي دي. همداراز ۹۲۹ تنه زده کوونکي له بهر څخه راستانه شوي دي او ۲۹۵۰ تنه مجاهدینو ته په اړونده ښوونځیو کې د زده کړې زمینه برابره شوې ده. همدارنګه د عمومي زده کړو آمریت له لوري ۱۸۲ د سیمه ایزو زده کړو ټولګي جوړ شوي او د څارندوی مدیریت



له لوري ۷۹ د څارندوی ټیمونه ایجاد شوي دي. د عامه پوهاوي په موخه د عمومی زده کړو آمریت له لوري ۳۰۰ غږیز او انځوریز کلیپونه چمتو او خپاره شوي دي همدارنګه د جوماتونو د ملا امامانو په مرسته تر سلو زیات د عامه پوهاوي پروګرامونه تر سره شوي دي.

د پوهنې ریاست مسئولین وايي چې سږ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د سواد زده کړې په کورسونو کې ۲۴۸۴ تنه نالوستي هېوادوال جذب شوي او هم د دې ولایت په بېلابېلو سیمو کې ۱۲ بابه نوي ښوونځي او ۸ بابه خصوصي کورسونه تأسیس شوي دي. له دې سربېره په ننګرهار کې ۵۰ بابه خصوصي ښوونځیو او ۵۰ بابه ښوونیزو کورسونو ته ...

۲مخ

## د سرچینو او اداري معین د اسلامي هېوادونو د سازمان له استازو سره وکتل

د پوهنې وزارت د سرچینو او اداری معین الحاج مولوي صبغت الله وصیل د اسلامي هېوادونو د سازمان له استازو سره وکتل.



په یاده کتنه کې، دواړو لورو د پام وړ موضوعاتو لکه؛ د درسي کتابونو چاپ، په هېواد کې د معیاري ښوونیز نظام رامنځته کولو او یو شمېر نورو برخو په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

## دیدار رئیس مدارس و دارالعلوم ها با مسئولین ریاست عمومی اصلاحات اداری و خدمات ملکی

مولوی عبدالرزاق صدیق رئیس مدارس و دارالعلوم های وزارت معارف در دیدار با مسئولین ریاست عمومی اصلاحات اداری و خدمات ملکی روی موضوعات مربوطه از جمله استخدام افراد شایسته و با تجربه در بست های مورد ضرورت، ساده سازی امور اداری و فراهم آوری سهولت ها برای مراجعین در ادارات وزارت معارف تأکید کرد. در این دیدار رئیس مدارس و دارالعلوم های وزارت معارف گزارش مختصر ارائه نموده و از پیشرفت ها در این راستا به هیئت معلومات داد که مورد تائید هیئت قرار گرفت.

## د پوهنې وزارت اداري کارکوونکو ته د علمي سیمینار جوړېدل

د پوهنې وزارت د تشکیلاتو ریاست په همغږۍ د ملکي خدمتونو انستیټوټ له لوري، د مرکزي هستې اداري کارکوونکو ته د وخت مدیریت تر عنوان لاندې ۲ ورځنی علمي سیمینار، د یاد وزارت د تشکیلاتو رئیس مفتي عبدالحلیم حلیمي، د ملکي خدماتو انستیټوټ ریاست مرستیال انجنیر ویس الدین ویس، مسئولینو، کارپوهانو او کارکوونکو په حضور کې پرانیستل شو.

په پیل کې د پوهنې وزارت د تشکیلاتو رئیس ګډون والو ته د ښه راغلاست ترڅنګ، د وخت مدیریت او ارزښت په اړه مفصله وینا وکړه او ویې ویل: د وخت مدیریت یو اساسي مهارت دی چې د ورځني ژوند په ټولو اړخونو کې خپله اغېزمنتیا لري.

نوموړي زیاته کړه، د همدغه مهارت له لارې، انسان کولی شي له خپل وخت څخه په مؤثره توګه ګټه پورته کړي او خپلو موخو ته په ټاکلي وخت ورسېږي.

ورپسې د ملکي خدمتونو انستیټوټ مرستیال څرګنده کړه، تر دې وړاندې د یادې ادارې له لوري د تصمیم نیونې، تجربو شریکولو، مدیریتي بنسټونو او یو شمېر نورو برخو سربېره سیمینارونه په لار اچول شوي وو او اوس د د وخت مدیریت تر سرلیک لاندې سیمینار جوړ شو.

نوموړي وویل چې د دغو ټولو سیمینارنو اساسي موخه په اداري او نورو ښوونیزو برخو کې د منسوبینو د کاري وړتیاوو لوړول دي.

د پوهنې وزارت یو شمېر نورو مسئولینو هم په راتلونکې کې د کارکوونکو د پوهې او کاري وړتیاوو لوړولو په برخه کې د ورته اغېزمنو پروګرامونو په لار اچولو ژمنه وکړه او له ګډون والو یې وغوښتل چې د سیمینار له موادو څخه په استفادې غوره پلان ګذاري وکړي.

## د پوهنې وزارت د سواد زده کړې برخه کې له ۲۵ وزارتونو او ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیک کړل



د پوهنې وزارت له ۲۵ وزارتونو او ادارو سره د نالوستو کسانو د سواد زده کړې کچې لوړولو په موخه، د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه، د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین الحاج مولوي سخاءالله سعید، د کیفیت تضمین معین الحاج مولوي عبدالخالق صادق، مرکزي رئیسانو، د یو شمېر نورو وزارتونو معینانو او مسئولینو په حضور کې لاسلیک شول، چې په دې سره به یادې ادارې د علمي همکاریو نوی باب پرانیزي.

په پیل کې د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین وویل : پوهنې وزارت په خپل بې سارې اقدام کې د مرکزونو په ګډون هغو لرې پرتو سیمو ته هم ښوونیز او روزنیز خدمتونه رسولي، چې د تېرې اداري پرمهال ورته هېڅ ډول پام نه وو شوی.

نوموړي زیاته کړه، په بېلابېلو برخو کې د پوهنې وزارت له پرمختګونو سربېره، د ۲۵ ادارو سره د سواد زده کړې کچې لوړولو په برخه کې هوکړه لیکونه لاسلیک کوي، چې په حقیقت کې دا په ادارو کې د نالوستو کسانو لپاره یو طلایي فرصت دی، تر څو هر هېوادوال د علم او پوهې له رڼا څخه برخمن شي.

ورپسې د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین، د یاد وزارت لخوا د هېواد له ۲۵ وزارتونو او ادارو سره د سواد زده کړې کچې لوړولو په موخه د یادو هوکړه لیکونو لاسلیک کېدل مهم وبلل او څرګنده یې کړه چې د اسلام په مبارک دین ...

۲مخ

## در این شماره

په مدرسو او ښوونځیو کې د ماشومانو شاملول مو د نېکمرغۍ په لور یو مهم ګام دی — صفحه ۲

فعالیت ها و دستاوردهای ریاست معارف بلخ در ٦ ماه نخست سال ۱٤۰۳ — صفحه ۲

برگزاری سیمینار علمی و مسلکی برای کارمندان اداری حوزه های تعلیمی شهر کابل — صفحه ۳

د یو شمېر ولایتونو پوهنې آمرینو ته سیمینار پرانیستل شو — ۳ مخ

درنو هېوادوالو! په مدرسو او ښوونځیو کې د خپلو ماشومانو په شمولیت سره خپل هېواد د علم په ډګر کې له نړۍ سره سیال کړئ — صفحه ٤

سرلیکنه

## په مدرسو او ښوونځیو کې د ماشومانو شاملول مو د نېکمرغۍ په لور یو مهم گام دی

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَعَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجمَعِین.

درنو هېوادوالو! یو هېواد هغه وخت د نېکمرغۍ او سوکالۍ لوړو څوکو ته رسېږي چې د هغه هېواد وگړي د علم په گانه سمبال وي، حاکمان یې عادل او زړه سواند وي او د خپل دین ساتنه او د هېواد پرمختگ ورته لومړیتوب ولري. لله الحمد له څو لسیزو ناخوالو وروسته چې اوس افغانستان په بشپړه توگه خپلواک او اسلامي نظام چې د هغه د حاکمیت لپاره ولس دا څو لسیزې زیاتې قربانۍ ورکړې حاکم، عادل او زړه سواندي علماء کرام مو مشران او امیران دي . دهېواد د پرمختگ، هوساینې، او پر ځان بسیاینې هیله به مو هله پوره شي چې نوی نسل مو په اسلامي او هېوادنۍ روحیه وروزل شي او د همدې ځوانانو په مټ خپل هېواد آباد او سوکاله کړو. په اسلامي او ملي روحیه د نوي نسل روزل، د هېواد د پوهنیز نظام پیاوړتیا او کیفیت لوړول او په پایله کې د یوه داسې نسل روزل چې پر مټ به یې هېواد آباد او د پرمختگ په لوري حرکت وکړي د پوهنې وزارت له اهدافو څخه دي، لکه څنگه چې د یوه بڼ څخه د ښه حاصل د تر لاسه کولو لپاره بڼوال او بزگر باید زحمت وگالي او د ونو ښه پالنه وکړي تر څو ښه حاصل تر لاسه کړي همدا شان نوی نسل هم ښې روزنې ته اړتیا لري تر څو په راتلونکي کې د خپلو ځوانانو پر مټ خپل هېواد آباد او د سیالانو سره سیال کړو. د هېواد د نوي نسل روزنه یوازې د پوهنې وزارت مسئولیت نه بلکې دا د هېواد د هر وگړي مسئولیت دی چې په دې برخه کې تر خپل توان پورې په هېواد کې د پوهنې د پراختیا په برخه کې خپلې هلې ځلې گړندۍ کړي او د هېواد بچیانو ته د زده کړې زمینه برابره کړي. نو راځئ چې د نوي ښوونیز کال په پیل سره لکه د تېر په څېر د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان مو مدرسو او ښوونځیو کې په شاملولو سره خپل مسئولیت ادا او په دې سره د خپل گران هېواد او بچیانو نېکمرغه راتلونکی تضمین کړو.

د پوهنې وزارت مشرتابه له خپل لوري ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې لکه په تېرو دریو کلونو کې چې د ښوونیز نظام په بډاینه کې بې سارې لاسته راوړنې درلودلې بیا به هم د هېواد بچیانو ته د توان تر حده د زده کړو مناسب چاپېریال را منځ ته او دوی ته به د دیني او عصري زده کړو زمینه برابره وي.

گرانو هېوادوالو ته هم ښایي چې خپل ماشومان د نوي ښوونیز کال له پیلېدو سره سم په مدرسو او ښوونځیو کې شامل کړي او خدای جل جلاله مه کړه داسې نه چې د کار، ضعیف اقتصاد یا هم په بله بهانه خپل ماشومان د مدرسې او ښوونځي له تگ څخه منع او د هغوی هیلې او راتلونکي له خاورو سره خاورې کړي.

همدارنگه د ښوونیز نظام بډاینه او د هېواد بچیانو ته د زده کړې د زمینې برابرول د ټولو هېوادوالو په ځانگړې توگه د شتمنو هېوادوالو تر نورو زیات مسئولیت دی، له نېکه مرغه چې په تېرو دریو کلونو کې عام ولس او شتمنو هېوادوالو د هېواد په گوټ گوټ کې په لسگونو مدرسې او ښوونځي به خپل شخصي لگښت جوړ کړي او د خپلو سیمو په زرگونو ماشومانو او نویو ځوانانو ته یې د زده کړې زمینه برابره کړې تر دې وروسته دې هم خپل مادي او معنوي ملاتړ له ښوونیز نظام څخه نه سپموي. دا روښانه ده چې په هره برخه په ځانگړې توگه د پوهنې په برخه کې د ولس ملاتړ اړین دی، د ولس د ملاتړ پرته د پوهنیز نظام پیاوړتیا ناشونې ده. د هېوادوالو هر ډول ملاتړ هغه که مادي وي یا معنوي د هېواد د پرمختگ په برخه کې لوی گام دی او دا به د هېواد د بچیانو لپاره لوی خدمت وي چې له شک پرته به یې الله جل جلاله د دوی دغه مرستې په صدقاتو کې حساب کړي.

درنو هېوادوالو! د پوهنې وزارت تاسو ته ډاډ درکوي چې راتلونکی نوی کال به ان شاءالله د هېواد بچیانو ته د لا زیاتو ښوونیزو امکاناتو برابرولو، د ښوونیز نظام د لا غښتلتیا او د هېواد د پرمختگ او ودې پیلامه وي او ډېر ژر به مو هېواد د نړۍ د پرمخ تللو هېوادونو په کتار کې حساب شي.

# درنو هېوادوالو!

# د هېواد په مدرسو او ښوونځیو کې د نویو زده کوونکو د جذب او نوم لیکنې لړۍ روانه ده، بیړه وکړئ خپل ماشومان په یادو تعلیمي مراکزو کې شامل او د هغوی روښانه راتلونکې تضمین کړئ

(وَلا تَقفُ ما لَیسَ لَكَ بِهِ عِلمٌ)

(سوره إسراء آیه ۳۶)

ژباړه: او په هغه څه پسې مه کېږه چې تاته یې پوهه نه وي.

راځئ! په نوي ښوونیز کال کې د علم او پوهې په زده کړې سره د فردي او ټولنیز پرمختگ پر لور د روښانه راتلونکي لپاره هڅې گړندۍ کړو

په اسلام کې د علم او پوهې ارزښت ډېر لوړ دی. د اسلام مبارک دین د علم زده‌کړې ته ځانگړی ارزښت ورکړی. لکه د قرآن کریم لومړی نازل شوی آیت د اِقْرَاْ (ولوله) په کلمې سره پیل شوی چې د علم په زده کړې باندې امر شوی دی.

علم او پوهه د انساني ژوند بنسټیزې برخې دي، چې د ټولنیز، فرهنگي او اقتصادي پرمختگ لپاره حیاتي اهمیت لري. علم د فرد د فکري ودې سبب گرځي او د ټولنې د هر اړخیز پرمختگ لپاره یو اړین امر دی.

علم یوازې د معلوماتو حاصلول نه دي، بلکې دا هغه قوت دی چې پر مټ یې یو فرد کولی شي د ژوند اصلي موخې تر لاسه او خپل شخصیت جوړ کړي.

## فعالیت ها و دستاوردهای ریاست معارف بلخ در ٦ ماه نخست سال ۱۴۰۳

مسئولین در ریاست معارف ولایت بلخ می‌گویند که در جریان ٦ ماه نخست سال ۱۴۰۳ هـ.ش دست آوردهای چشمگیری در راستای گسترش نظام معارف، ارتقای ظرفیت معلمین و دسترسی اطفال به مکاتب در این ولایت داشته است.

به گفته مسئولین ریاست معارف ولایت بلخ در آغاز سال جدید تعلیمی ۱۴۰۳ حدود ۵۵۳۵۶ تن شاگرد جدید الشمول در برنامه تعلیمات عمومی جذب گردیده که با جذب این اطفال شماری شاگردان مجموعی در مکاتب این ولایت به ۴۴۴.۷۸۵ تن میرسد، آنان هم‌چنان می‌افزایند که در حال حاضر حدود ۱۲.۵۹۱ تن شاگرد در صنوف محلی و ۱۷۹۳ تن شاگرد در صنوف تسریعی مشغول فراگیری آموزش می باشند. به گفته این مسئولین اسناد تعلیمی ۱۵۶ تن شاگرد برگشته از خارج کشور ارزیابی و به مکاتب دلخواه شان معرفی شده است.

مسئولین افزودند در جریان شش ماه اول سال۱۴۰۳ ۱۷۴۵ تن معلم، ۱۵۴ تن سرمعلم، ۱۹۵ تن مدیر و ۱۸۷ تن عضو علمی از برنامه های آموزشی که از سوی اعضای انکشاف مسلکی معلمین برگزار گردیده بود، مستفید شده اند و جهت دریافت نیازهای لابراتواری از ۱۸ لابراتوار مکاتب شهر و ۱۶ ولسوالی از سوی اعضای مسلکی ساینس نظارت حمایوی صورت گرفته است.

آنان هم چنان می گویند که به تعداد ۸۵ قطعه شهادتنامه به فارغان صنف دوازدهم و چهاردهم مدارس و دارالعلوم ها توزیع و کادر علمی ۶۵ تن استاد اجرا گردیده است.

این مسئولین هم چنان می گویند که صدها تن از طریق رقابت آزاد به حیث معلم و کارمند از سوی ریاست معارف ولایت بلخ استخدام و به مکاتب که نیاز بوده است، معرفی شده اند وهم چنان بست های خالي در تشکیلات این ریاست تثبیت و به مرکز ارسال گردیده است که پس از طی مراحل قانونی آن به زودی معلمین جدید در بست های یاد شده استخدام خواهند شد.

به گفته مسئولین ریاست معارف بلخ به تعداد ۲۱۱ باب نهاد تعلیمی در بخش های تعلیمات اسلامی در ولسوالی های این ولایت جدیدا تأسیس گردیده و به تعداد ۱۴۰۲ تن علماء کرام به صنف دوازدهم و به تعداد ۸۸۵ تن به صنف چهاردهم تثبیت گردیده است. هم چنان به تعداد ۲۵۷۷ تن حافظ قرآنکریم تثبیت و در دیتابیس ثبت گردیده است.

قابل ذکر است که در ولایت بلخ تمامی مراکز تعلیمی اعم از نهادهای امارتی و خصوصی به روی شاگردان باز بوده و تمام شاگردان بدون وقفه به دروس خویش ادامه می دهند، در حال حاضر در این ولایت ۴۴۴.۷۸۵ تن شاگرد در ۷۵۰ باب مراکز آموزشی مصروف فراگیری آموزش می باشند، در همین حال حدود ۳۷۲۶ تن شاگرد در ۱۶۴ باب کورس سواد آموزی مصروف فراگیری سواد هستند، هم چنان در این ولایت ۱۰۶۱ باب مرکز تعلیمات اسلامی از قبیل مدارس، دارالعلوم، دارالحفاظ و مدارس کلیوالی اعم از خصوصی و امارتی فعالیت دارند که در کل ۹ صد ۲۵ هزارو ۱۱۱ تن طالب العلم در نهادهای یاد شده آن مصروف فراگیری علوم دینی میباشند.

### د پوهنې وزارت د ...

کې پر کتابت زیات ټینگارشوی؛ څکه چې د ورځني ژوند د ټولو کړنو پرمختگونه د لیک لوست پر پیاوړتیا او تر لاسه کولو پورې تړلي دي.

په ورته مهال د یو شمېر نورو وزارتونو مسئولینو او علماءکرامو هم د لیک لوست د اغېزو او ارزښت په تړاو هراړخیزې علمي ویناوې وکړې او د ټولنې وگړي یې د علم او پوهې تر لاسه کولو ته وهڅول.

په پای کې د پوهنې وزارت په استازیتوب د یاد وزارت د ښوونې او روزنې معین او کفیل الحاج مولوي سخاءالله سعید او د هېواد د ۲۵ نورو وزارتونو او ادارو باصلاحیته استازو ترمنځ د سواد زده کړې کچې لوړولو په موخه د گډو همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د یادونې وړ ده، چې د پوهنې وزارت د لایحو په رڼا کې د همکاریو دا ډول تړونونه به د اړوندو وزارتونو او ادارو د نالوستو کسانو لپاره د سواد کچې لوړولو او تجربو شریکولو په برخه کې یو غوره فرصت رامنځته کړي.

### د سږ کال په بهیر کې...

د فعالیت جوازونه تمدید شوي دي.

د مسئولینو په خبره په دې ولایت کې د اسلامي زده کړو په برخه کې یې هم ښې لاسته راوړنې درلودلې دي چې له دې جملې څخه د سږکال په لومړیو شپږو میاشتو کې په دې ولایت کې د اسلامي زده کړو ۲۰۷ بنسټونه تأسیس شوي او د اسلامي زده کړو د آمریت له لوري د ۲۷۴ تنه علماء کرامو ته دولسم ټولگي تثبیت او همدارنگه د قرآن کریم ۶۰۰ تنه حافظانو او ۱۵۴ تنو علماء کرامو د څوارلسم ټولگي د تثبیت سویې آزموینه اخیستل شوې ده. او هم د ۱۹۵ تنو طالب العلمانو لپاره د لیلیې آسنتیاوې را منځ ته شوي دي. مسئولین زیاتوي چې په دارالعلومونو کې په لومړیو شپږو میاشتو کې ۶۵۷ تنه او د لومړۍ دورې لپاره ۵۶۵ تنه طالب العلمان جذب شوي دي. اسلامي زده کړو ته د هېوادوالو د لا زیات لاسرسي په موخه په یاد ولایت کې ۶۵ مدرسې، ۲۳ بابه دارالحفاظونه، ۳۷ بابه کلیوالي مدرسې او ۳ بابه کلیوالي دارالحفاظونه جوړ او ۲۲ بابه مدرسې تجهیز شوي دي.

د یاد ولایت مسئولین وایې چې د ښوونکو د مسلکي وړتیا لوړولو په موخه هم اغېزمن ورکشاپونه په لار اچول شوي چې په دې سره سلگونو ته ښوونکو ته مسلکي زده کړې ورکړل شوي دي. او هم د زده کړو له بهیر څخه وخت ناوخته څارنه تر سره شوې.

مسئولین زیاتوي چې د سږکال په لومړیو شپږو میاشتو کې د سیمه ایزو ټولگیو د ۱۱۶۸۵ زده کوونکو له جملې څخه ۶۱۹۰ تنه دولتي ښوونځیو ته لیږدول شوي دي، همدارنگه د یاد ولایت د پوهنې ریاست له لوري له بهر څخه د ۱۷۷۱ تنو راستانه شویو زده کوونکو احصائیه را ټوله او اړوندو ښوونځیو ته د زده کړو حاصلولو کولو په موخه ورپېژندل شوي دي.

همدارنگه د سرچینې او اداري په برخه کې هم د معارف زرگونو ته کارکوونکو ته د راجستریشن، د هویت د کارتونو ویش، د ښوونکو گمارنې، قدم لوړولو او تقاعد په برخه کې لازم خدمات تر سره شوي دي.

د ننگرهار ولایت د معارف ریاست د یاد شوو فعالیتونو په تر سره کولو سره د سږ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې توانېدلی چې هېوادوالو ته د ښوونیزو خدمتونو په وړاندې کولو سره د معارف وړانگې د یاد ولایت تر ډېرو لرو پرتو سیمو ورسوي او په سلگونو زره طالب العلمانو او زده کوونکو ته په سالم چاپېریال کې د زده کړې زمینه برابره کړي.

د یادونې وړ ده چې ننگرهار ولایت ۹۰۳ بابه ښوونیز او روزنیز امارتي او ۲۲۴ بابه خصوصي مرکزونه لري چې ۷۹۹ د عمومي زده کړو ښوونځي او د اسلامي زده کړو په برخه کې ۶۱ بابه مدرسې، ۲۱ بابه دارالحفاظونه او ۴ بابه دارالعلومونه شتون لري.

همدارنگه په دې ولایت کې د ښوونکو د روزنې ۱۶ بابه ښوونتونونه، د لیک لوست ۶ بابه ښوونځي، ۱ د شپې لیسه، ۶۸ بابه کلیوالي مرکزونه، د چټکو زده کړو ۹۴ ښوونتونونه او ۱۹۵ بابه د لیک لوست زده کړو دولتي او غیر دولتي کورسونه په فعالیت بوخت دي چې ټولټال په یادو ښوونیزو او روزنیزو مرکزونو کې ۸ سوه ۳۹ زره ۷۷۴ تنه زده کوونکي او زده کوونکې په زده کړو بوخت دي.

## لنډخبرونه

### باميان

مولوی بسم‌الله نعمانی رئیس احصائیه وزارت معارف طی یک سفر کاری به ولایت بامیان با قاری‌عنایت‌الله سهار رئیس معارف آن ولایت، در دفتر کاری‌اش دیدار و گفتگو نمود.

هدف از این سفر بررسی وضعیت تعلیمی آن ولایت عنوان گردیده است

### نیمروز

سیمینار ۲ روزه ارتقاء ظرفیت برای اعضای شوراهای تعلیمی مکاتب ولایت نیمروز با حضور الحاج مولوی گل احمد حقانی رئیس معارف، در شهر زرنج مرکز آن ولایت برگزارشد.

### ارزگان

مراسم نهال شانی در ریاست معارف ولایت ارزگان با غرس چندین اصله نهال زینتی و میوه دار از سوی مسئولین معارف، غرس نهال در نهاد های تعلیمی آن ولایت آغاز گردید.

### کندهار

ورکشاپ آموزشی ۲ روزه برای اعضای شوراهای تعلیمی مکاتب ولسوالی خاکریز ولایت کندهار تدویر یافت.

### بلخ

سیمینار ظرفیت سازی برای ۸۰۰ تن معلمین ولایت بلخ با حضور رئیس و مسئولین معارف آن ولایت آغاز گردید. مولوی محمد شریف عثمانی رئیس معارف ولایت بلخ در محفل افتتاحیه این سیمینار؛ ضمن قدردانی از تطبیق پلان های مؤثر رهبری وزارت معارف، برگزاری این سیمینار را برای پرسونل معارف آن ولایت مفید عنوان نمود.

### غزنی

سیمینار دو روزۀ ارتقای ظرفیت برای مسئولین بخش های سواد آموزی ریاست معارف ولایت غزنی دایر گردید.

### بدخشان

از طرف وزارت معارف و به همکاری یک نهاد همکار محوله مواد آموزشی شامل کتب درسی، بسته های مواد ممد درسی و وسایل اداری به ریاست معارف ولایت بدخشان مواصلت نموده است که در نظر است هم زمان با آغاز سال نو تعلیمی برای مکاتب توزیع شود.

### پکتیکا

د پوهنې وزارت لخوا د یو همکار بنسټ په ملاتړ، د پکتیکا ولایت د ۹۶ تنو ښوونکو ورتیا لوړولو ۴ ورځنی سیمینار، ګډون والو ته د تصدیق پاڼو په وېشلو سره پای ته ورسېد.
د یو بل خبر له مخې د پکتیکا ولایت پوهنې ریاست د سر روضې ولسوالۍ ښوونځیو ته د قرطاسیې کڅوړې، دفتري توکي، خېمې، فرشونه، مېزونه - څوکۍ او الماري ووېشلې.

### هرات

د هرات ولایت په ښوونځیو کې د شنه چاپېریال رامنځته کولو په موخه د نیالګیو کینولو کمپاین، د یاد ولایت په استقلال عالي لېسه کې د پوهنې رئیس مولوي رحمت الله جابر لخوا د نیالګیو په کینولو سره پیل شو.

### پروان

د پروان ولایت د جبل السراج، سید خېل او سالنګ ولسوالیو ۱۳۰ تنو ښوونکو لپاره د "اغېزمن تدریس او زده کړې ترویج" تر سرلیک لاندې د ورتیا لوړولو روزنیز ورکشاپ، د پوهنې رئیس مولوي سید محمد فیضي په حضور کې پرانیستل شو.

### ننګرهار

د ننګرهار عالي لېسې زده کوونکو لپاره د څښاک پاکو اوبو رسولو سیستم، د یوتن ملي سوداګر حاجي احسان الله امیني لخوا جوړ او فعال شو.

## ورکشاپ آموزشی برای اعضای شوراهای تعلیمی مکاتب در ولایت لوگر

در ولایت لوگر برای ۸۰۰ تن اعضای برحال شوراهای تعلیمی ۱۱۶ باب مکتب، کارگاه‌های آموزشی ۲ روزه آغاز گردید. هدف این کارگاه ها که به همکاری یکی از نهادهای همکار با معارف ایجاد وآغاز گردیده اند، جذب همکاری های مردم جهت تقویت نظام‌معارف عنوان شده است.

## آغاز کمپاین های نهال‌شانی از سوی ریاست های معارف چند ولایت



به پیشواز از فرا رسیدن فصل بهار، ریاست های معارف ولایت های هرات، پروان، لغمان و ارزگان با غرس نهال های مثمر و زینتی در ادارت و مراکز آموزشی آن ولایات، کمپاین نهال شانی در معارف ولایت های یاد شده، آغاز شد.

به گفته مسئولین معارف ولایات مذکور؛ این کمپاین ها به هدف ایجاد و حفظ محیط سبز و سالم تعلیمی و تشویق متعلمین به ارزش و اهمیت فضای سبز در زندگی انسان ها راه اندازی گردیده اند.

## برگزاری سیمینار علمی و مسلکی برای کارمندان اداری حوزه های تعلیمی شهر کابل

سیمینار بلند بردن سطح آگاهی و ظرفیت کارمندان اداری حوزه های تعلیمی ریاست معارف شهر کابل زیر نام « بلند بردن مهارت های کاری » با حضور مفتی شفیع الله منصور رئیس عمومی امور کارکنان وزارت معارف و قاری عبدالباسط حقانی رئیس معارف شهر کابل، مسئولین و کارشناسان این وزارت برگزار گردید.

در آغاز رئیس عمومی امور کارکنان وزارت معارف در کنار خوش آمدید مهمانان، در محوریت موثریت ارتقای ظرفیت های کاری کارمندان معلومات مفصل ارائه کرده، افزود: بلند بردن ظرفیت های مسلکی کارمندان وزارت معارف در اولویت های ما می باشد زیرا روند اجرای امور را سریع ساخته و به آن شفافیت می بخشد.

به تعقیب آن رئیس معارف شهر کابل نیز ابعاد مثبت سیمینار را توضیح نموده، از اشتراک کننده ها خواست تا از داشته های علمی سیمینار مذکور بهره اعظمی ببرند.

## د پکتیا ولایت ښوونځیو سره د درسي توکو مرسته وشوه



د پکتیا ولایت پوهنې ریاست سره د یوې همکارې ادارې له لوري، د تدریسي او ښوونیزو موادو ۲۸۰۳ کڅوړو مرسته وشوه.

دا کڅوړې چې ۱۰ ډوله تدریسي مواد پکې شامل دي، تاکل شوې ده، چې د نوي ښوونیز کال له پیل سره سم به د پکتیا ولایت پوهنې ریاست له لوري د یاد ولایت د ښوونځیو په ۵۶۶۰۶۰ تنو زده کونکو ووېشل شي.

د پکتیا ولایت د پوهنې رئیس الحاج مولوي عبدالقیوم فاروقي د یادو ښوونیزو موادو مرسته د تدریسي کیفیت او د زده کونکو د تعلیمي ورتیاوو په لوړولو کې اغېزمنه او مهمه وګڼله او په راتلونکي کې یې د دې ډول مرستو د دوام غوښتنه وکړه.

## د یو باب ښوونځي سره د ۲۷۰ زره افغانیو مرسته وشوه

د میدان وردګ ولایت جغتو ولسوالۍ علم پروره خلکو له لوري، د یادې ولسوالۍ د خدایداد خان عالي لېسې سره د ۲۷۵ زره ۸۴۰ افغانیو مرسته وشوه.

ټاکل شوې، دغه پیسې د یادې لېسې د رغونې په برخه کې چې اوسمهال یې چارې ۹۰ سلنه بشپړې شوې دي، ولګول شي.

د پوهنې وزارت دخپلو علم پروره خلکو په ځانګړې توګه د میدان وردګ ولایت په علم او پوهې مینو اوسېدونکو له مادي او معنوي ملاتړ څخه مننه او ستاینه کوي.

## بغلان ولایت پوهنې ریاست سره ۷۵,۷زره جلده درسي کتابونو مرسته وشوه

د بغلان ولایت له پوهنې ریاست سره د یو همکار بنسټ له لوري د ښوونځیو ۷۵زره ۷۳۰ جلده درسي کتابونو مرسته وشوه.

د یاد ولایت پوهنې مسئولینو په وینا، دغه کتابونه چې د پوهنې ریاست ګدامونو ته لېږدول شوي، ټاکل شوې د نوي ښوونیز کال په پیل کېدو سره به د ښوونځیو پر زده کوونکو ووېشل شي.

## د یو شمېر ولایتونو پوهنې آمرینو ته سیمینار پرانیستل شو

د پوهنې وزارت د تشکیلاتو ریاست له لوري د خوست، پنجشېر، لوګر، کونړ، غزني، فراه، میدان وردګ، زابل او پروان ولایتونو د پوهنې آمرینو ته رهبرۍ او مدیریتي ورتیاوو لوړولو په موخه علمي سیمینار، د یاد وزارت د ښوونې او روزنې معین الحاج مولوي سخاءالله سعید، د کیفیت تضمین معین الحاج مولوي عبدالخالق صادق، د سرچینو او اداري معین الحاج مولوي صبغت الله وصیل، ځنو مرکزي رئیسانو، مسئولینو او علماء کرامو په حضور کې پیل شو.

په پیل کې د پوهنې وزارت د تشکیلاتو رئیس مفتي عبدالحلیم حلیمي لوړ پوړو مېلمنو او ګډون والو ته د ښه راغلاست ترڅنګ، د یاد سیمینار د بنسټیزو موخو او ارزښت په تړاو تفصیلي ویناء وکړه او ویې ویل چې په یاد سیمینار کې به د یو شمېر ولایتونو ۱۰۶ تنو پوهنې آمرینو ته د میتودیکي او رهبرۍ د ورتیاوو لوړولو په تړاو معلومات ورکړل شي.

ورپسې د یاد وزارت د ښوونې او روزنې معین، دغه ډول سیمینارونه د پوهنې وزارت کارکوونکو لپاره اغېزناک وبلل او له ګډون والو یې وغوښتل چې د یادو علمي پروګرامونو له منځپانګې اعظمي ګټه پورته کړي. همدارنګه د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین په هېواد کې روان سرتاسري امنیت ته په اشارې سره وویل: اوس د دې وخت رارسېدلی دی چې په بشپړ امنیت او ډاډ سره خپلې دندې په آرامه فضا کې ترسره کړو.

نوموړي په خپلو خبرو کې زیاته کړه، چې پوهنې وزارت د راتلونکو نسلونو د باکیفیته ښوونې او روزنې برخه کې شپه ورځ هڅې کوي.

په ورته وخت کې د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین په خپلو خبرو کې څرګنده کړه، اوسمهال د یاد وزارت مشرتابه د پوهنیز کیفیت لا لوړوالي برخه کې خورا زیاتې هلې ځلې کړې، چې د ښوونکو د مسلکي روزنې او پراختیا لپاره د ټول هېواد په ولسوالیو کې د علمي غرو ګمارل، د مرکز په ګډون د ټولو لیرې پرتو سیمو د تشکیلاتو متوازن وېش او لاپراخوالی یې د نمونې په توګه یادولی شو.

دغه راز یو شمېر نورو مسئولینو هم د علمي سیمینارونو د ګټو په اړه آمرینو ته اغېزناکې ویناوې وکړې او هغوی یې خپلو اساسي موخو ته متوجې کړل.

# Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
معراج «زماني»
محمد نسيم «عياذ»
**مسئول مدير:** سعيد «جلال»
**انځور اخيستونکی:** محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**ډيزاينر :** محمد قسيم «يعقوبي»
**تيراژ :** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**علاقه مندان معارف و نويسنده گان گرامی!**
شما می توانيد انتقادات، پيشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ايميل آدرس ذيل ارسال نماييد.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړيکي شميره:** ۰۷۲۸٤۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 296 /2025


## درنو هېوادوالو!

# په مدرسو او ښوونځيو کې د خپلو ماشومانو په شموليت سره خپل هېواد د علم په ډګر کې له نړۍ سره سيال کړئ

( إِنَّما يَخشَى اللَّهَ مِن عِبادِهِ العُلَماءُ إِنَّ اللَّهَ عَزيزٌ غَفورٌ)

( سوره فاطر آيه ۲۸ )

ژباړه: دغه شان د الله جل جلاله څخه بيرېږي هغه د ده په بندګانو کې کوم چې پوه دي په تحقيق سره الله جل جلاله زبردست دی بخښـنې والا ده.

راځئ نوی ښوونيز کال د زده کړې او ښيرازۍ په ستر فرصت بدل کړو او د زده کړو په ترسره کولو سره لويو پرمختګونو ته لاسرسی پيدا کړو ښوونه او روزنه د يو ملت او ټولنې د ملا تير جوړوي، هغو ملتونو چې پرمختګ يې کړی د علماء کرامو، استاذانو، ښوونکو او پوهانو په واسطه يې ستوري په آسمان کې ځليدلي دي. همدارنګه د نړۍ هر هېواد په ښوونه او روزنه پانګونه کوي، په کومه ټولنه کې چې ښوونه او روزنه په سمه توګه تر سرکيږي هغه ټولنې به په هوساينه کې ژوند کوي لکه پوهانو چې ويلي د کوم ښوونيز مرکز دروازه چې پرانيستل کيږي په هغه هېواد کې د زندان دروازه تړل کېږي. همدارنګه د اسلام مبارک دين هم په ښوونه او روزنه باندې ډېر ټينګار کړی. پوه کسان يوازې د ځان په اړه نه بلکې د ټولې نړۍ او انسانانو د ژغورولو په فکر کې وي ښوونه او روزنه يوازې په زده کوونکو يا ښوونکو پورې نه ده تړلې بلکې يوه ښه او سالمه ښوونه او روزنه هغه ده چې والدين او زده کوونکي په فعاله توګه پکې خپل مسئوليت وپېژني.

## راپور هفتگی کار و فعاليت رياست دعوت و ارشاد

در هفته که گذشت، به سرپرستی الحاج مولوی جمعه خان سروری رئيس دعوت و ارشاد وزارت معارف همراه با نمايندگان معينيت های؛ تعليم و تربيه و منابع و اداره و رياست های عمومی امور کارکنان و دفتر مقام وزارت، دو جلسه مهم و کليدی صورت گرفت.

هم چنان مطابق پلان سالانه اين رياست، هفته گذشته برای ۳۵۰ تن از مبلغين رياست معارف ولايت کابل سيمينار يک روزه اصلاحی و تربيتی در ليسه استقلال برگزار گرديد.

در سيمينار مذکور الحاج مولوی صبغت الله وصيل، معين منابع و اداره، مولوی جمعه خان سروری رئيس دعوت و ارشاد، مولوی سيدآغا رئيس امور عقيدتی و فرهنگی وزارت دفاع ملی، مولوی ابو فيضان رئيس دعوت و ارشاد وزارت انکشاف دهات، مبلغين و يک تعداد علماء جيد نيز حضور داشتند.

سخنرانان برای مبلغين اشتراک‌کنندگان اين سيمينار در مواردی چون اصول و شرايط دعوت و سخنان علمی ديگر حول محور دعوت صحبت نمودند.

در عين حال، از جريان حلقات درسی کارمندان هسته مرکزی و ساير ادارات مرکزی اين وزارت، حوزه های تعليمی معارف شهر کابل و رياست های معارف ولايات گزارش گرفته شده است که در اين هفته نيز، کمافی السابق دروس دينی آن ها از طرف مبلغين پيش برده شده و همه کارمندان در آن حضور داشته و در هسته مرکزی امام رياست مذکور مولوی ابراهيم به همراهی ملا حبيب‌الله عزيز با کارمندان شماری از رياست های هسته مرکزی از نزديک ديدار نموده و برای آن ها توصيه های لازم نمودند.

هم چنان در هفته گذشته؛ از سوی مولوی جمعه خان سروری رئيس اين رياست برای کارمندان هسته مرکزی وزارت معارف بيانات علمی و اصلاحی صورت گرفته است، که در بيانات مذکور رئيس دعوت و ارشاد از کارمندان خواست تا کارهای خويش را با صداقت و اخلاص کامل مطابق به پاليسی امارت اسلامی تنظيم کرده، کارهای مراجعين را بدون تأخير انجام داده و از مسئولين خويش اطاعت کنند.

## د اسلامي زده کړو معين د افغان ـ ترک دارالعلوم له مسئولينو سره وکتل




د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معين الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده د افغان ـ ترک دارالعلوم آمر او علمي مرستيال دوکتور محمد چلين او پلاوي سره وکتل او د ښوونيزو مسايلو په ځانګړې توګه د هغو دارالعلومونو جوړولو په اړه يې چې په افغانستان کې تر کار لاندې دي، بحث او نظرونه تبادله کړل.

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معين ياد پلاوي ته د هرکلي ترڅنګ، د افغانستان د تعليمي بهير په برخه کې د همدغې ادارې له کړنو د ستاينې سربېره، دواړه لوري دې هوکړې ته ورسيدې چې، د دارالعلومونو فارغان به نه يوازې د خپلو درسونو له بشپړولو وروسته د شرعياتو پوهنځي ته وګمارل شي، بلکې په نورو پوهنځيو کې به هم د شاملېدو حق ولري.

ور پسې د افغان- ترک دارالعلوم پلاوي د يو لړ اړينو معلوماتو د وړاندې کولو پرمهال په پوهنيزه برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

په پای کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معين ياد پلاوي ته د هراړخيزو همکاريو او اړينو آسانتياوو برابرولو ډاډ ورکړ.

## د پوهنې آمرينو علمي او مسلکي سيمينار پای ته ورسېد



د رهبري او مديريتي وړتياوو لوړولو په موخه څلور ورځنی علمي او مسلکي سيمينار، چې د پوهنې وزارت له لوري د هېواد د ولسواليو او ښوونيزو ناحيو د ۴۷۳ تنو آمرينو لپاره پيل شوی وو، د پوهنې وزارت د سرپرست الحاج مولوي حبيب الله آغا، د آزموينو ملي ادارې لوی رئيس شيخ عبدالباقي حقاني، د سرچينو او ادارې معين الحاج مولوي صبغت الله وصيل، د تشکيلاتو رئيس مفتي عبدالحليم حليمي، يو شمېر مسئولينو او جيدو علماءکرامو په حضور کې پای ته ورسېد.

د پوهنې وزارت سرپرست په خپله اصلاحي وينا کې کار اهل کار ته پر سپارلو د ټينګار ترڅنګ، له ګډون والو وغوښتل چې د هېواد بچيانو د ښوونيز او روزنيز کيفيت لوړولو کې هر اړخيزې هڅې وکړي.

ور پسې د تشکيلاتو رئيس له اړوندو آمرينو څخه وغوښتل چې د ښوونکو او اداري کارکوونکو لپاره د نويو بستونو وېش لپاره د توازن په رامنځته کولو کې له ياد وزارت سره همکاري وکړي.

په دې غونډه کې د آزموينو ملي ادارې لوی رئيس د سيمينار ګډون وال، د ديني علومو ترڅنګ د عصري علومو پر زده کړه او معياري کولو ټينګار وکړ.

په پای کې د پوهنې وزارت سرپرست لخوا ګډون والو ته د تصديق پاڼو او نغدي ډاليو له ورکولو وروسته، غونډه د پوهنې وزارت د سرچينو او اداري معين په دعائيې سره پای ته ورسېده.

## وقف زمين برای ساخت مدارس و مکاتب در ولايت باميان



به گفته مسئولين معارف ولايت باميان چندين جريب زمين برای احداث مکاتب و مدارس جديد در مربوطات ولسوالی شيبر آن ولايت از سوی مردم وقف گرديده است.

اين جايداد ها جمعا به اندازه ۶.۸ جريب زمين بوده که ۳.۵ جريب آن از سوی شخصيت معارف دوست ولسوالی شيبر، به اسم حاجی محمد شريف برای ساخت يک باب مدرسه به نام خواجه ابدال در قريه کيچه، ۳ جريب آن از سوی وارثين ملا عبدالحکيم باشنده آن ولسوالی برای ساخت يک باب مدرسه به نام امام اعظم ( رحمه الله) واقع در ايمنداب و ۳ بسوه زمين نيزاز طرف غوث الله يک تن از معارف دوستان ولسوالی شيبر، برای ساخت يک باب مکتب متوسطه سرغندک آن ولسوالی اهداء گرديد است .

قابل يادآوريست که علاوتا مبلغ ۹۵ هزار افغانی پول نقد نيز از سوی مردم آن ولسوالی به هدف بازسازی مراکز تعليمی مساعدت صورت گرفته است.

رهبری وزارت معارف از حمايت های مادی و معنوی مردم کشور از نظام معارف قدردانی نموده و از مردم معارف دوست ولايت باميان جهت مساعدت های معارف دوستانه شان سپاسگزاری می نمايد.

## د راتلونکي ۱۴۰۴ ښوونيز کال لپاره به لوګر کې نوي ښوونځي تأسيس شي

د لوګر پوهنې رياست مسئولين وايي د پوهنې وزارت په پام کې لري، چې په نوي ۱۴۰۴ ښوونيز کال کې به د ياد ولايت په مرکز او ولسواليو کې ۱۵ بابه نوي لومړني ښوونځي تاسيس او فعال کړي.

د ياد ولايت د پوهنې رياست د معلوماتو له مخې، ياده پرېکړه د لوګر ولايت علماءکرامو او قومي مشرانو د غوښتنې پر اساس شوې، تر څو په هغو سيمو او باندو کې نوي ښوونځي تاسيس او فعال شي، چې د ماشومانو لپاره ښوونځي شتون نه لري او له دې امله دوی له ستونزو سره مخ دي.

له بلې خوا د ياد ولايت اوسېدونکو د پوهنې وزارت له دغه اقدام د هرکلي تر څنګ د ياد وزارت د ښوونيزو پلانونو او پروګرامونو له پلي کېدو ملاتړ څرګند کړ.

په ورته وخت کې د لوګر پوهنې رياست په پام کې لري، چې د نوي ښوونيز کال لپاره د همدغه ولايت ښوونيز مرکزونو ته ۱۸ زره د شرايطو وړ ماشومان جذب کړي.

**درنو هېوادوالو!**
**د پوهنې پراختيا، پياوړتيا او غښتلتيا ستاسو د هڅو او نه ستړي کېدونکو هلو ځلو په پايله کې ترلاسه کېږي**